**غربي فکر او سیاست د کډوالی کړکېچ رامنځته کړی او یوازې اسلام یې حلاره لري**

**خبر:**

موږ ۲۰۲۱م، کال په داسي حال کې پیل کړ، چې د ټولې نړۍ 82.4 ملیونه خلک د سیاسي بې‌ثباتیو، اشغال او کړاوونو له امله بې ځایه شوي دي. د UNHCR د وروستي راپور له مخې له دې ډلې یې ۳۰میلیونه کډوال، ۴۸میلیونه یې داخلي بې ځایه شوي او تقریباً څلور میلیونه خلک سیاسي پناه غوښتونکي دي. د دغو بې‌ځایه شوو، نیمایي ماشومان دي. سرچینه:[الجزیره،20/6/2021]

**تبصره:**

د سیکولر او پانګوال نظام تر سیوري لاندې د عصري نړۍ له جوړېدو راهیسې، ډېرې نړیوالې ستونزې شته، چې اصلي لامل یې د استعمار دور او اوسنی نړیوال نظم دی. کډوالي یو له هغو مسایلو څخه ده چې ټول نړیوال پرې پوهیږي، په میلیونونو میلیونونو انسانان یې له روغتیایي، رواني او ټولنیزو ستونزو سره مخ کړي دي.

له دوو نړیوالو جګړو وروسته، د خپلواکۍ په پلمه استعمارګرو هېوادونو د دویمې او درېیمې نړۍ هېوادونو په سیاست او اقتصاد کې مستقیمه او نامستقیمه مداخله وکړه. مغرضو پانګوالو هېوادونو د ملګرو ملتونو، نړیوال وجهي صندوق او نړیوال بانک په رامنځته کولو سره نړیوال نظم رامنځته کړ، ترڅو محدود شمېر استعماري هېوادونه د دویمې او درېیمې نړۍ هېوادونو عادي ژوند ګډوډ کړي او په امکاناتو یې خېټه واچوي.

که د کډوالی کړکېچ وڅېړو؛ وینو چې د طبیعي افتونو له امله دومره کډوالي نه ده رامنځته شوې؛ څومره چې د غربي استعمار له امله رامنځته شوې. په فلسطین کې د یهودو لپاره د انګریز وطني مفکوره امریکایانو هم تقویه کړه، چې تر نن ورځې پورې یې له پینځه ملیونو ډېر مسلمانان بې کوره کړي. له ۲۰۲۱م، کال راهیسې په افغانستان کې د امریکا اوږدې جګړې له دوه نیم ملیونه څخه ډېر خلک بې کوره کړي، چې دوه میلیونه یې پاکستان او ایران ته تللي دي. په سومالیا کې د اسلامي محکمو د اتحادیې راپرځولو او بې ثباته کولو لپاره د متحده ایالاتو مداخلې 800،000 خلک بې ځایه کړل، چې ډېری یې په کینیا کې د داداب او کاکوما مهاجر کمپ اوسېدونکي وو. د ګاونډیو اسلامي هېوادونو لکه ترکیې، ایران او سعودي عربستان په مرسته د بشارالاسد د پیاوړتیا لپاره د امریکا او روسیې مداخلې شاوخوا شپږ میلیونه خلک د سوریې پرېښودو ته اړ کړل. دا یو څو بیلګې وې؛ ګڼې ډېر داسې هېوادونه شته چې له پوځي وګړو پرته، ډېری یې ملکیان وژل شوي او بې ځایه شوي او له جګړې وروسته د خپل عادي ژوند پیلولو په لټه کې دي.

نه یوازې د غرب مستقیمې مداخلې، بلکې د دولت ـ ملت مفکورې په خپراوي سره، چې نوي هېوادونه او پولې یې رامنځته کړي، په خلکو کې یې د اقلیت او اکثریت تخم شیندلی، چې د بېځایه کېدو، بې ثباتیو او ورانکاریو لامل یې ګرځیدلی. د برما راخین ایالت یو میلیون روهینګیایي مسلمانان د بنګله دېش کاکس بازار کمپونو ته کډوال شول. د سریلانکا د تامیلز عاموژنه د دې لامل شوه، چې په زرهاو خلک هند او نورو هېوادونو ته کډوال شي او خپلې اصلي ځمکې پرېږدي. د مرکزي افریقا جمهوریت ۸۰٪ مسلمانان چې شا او خوا ۴سوه زره تنو ته رسیږي د اسلام ضد حساسیتونو له امله ګاونډیو هېوادونو لکه، کامرون او چاد ته تښتېدلي دي.

اسلام د دې ټولو ستونزو حل له خالق څخه اخلي؛ د خلافت تر سیوري لاندې مختلف ډوله خلک اوسیږي، چې د دې ټولو سالمه ساتنه کېږي، بې ثباتي نه رامنځته کیږي ځکه چې د خلافت خارجي

سیاست د نورو شیطاني سیاستونو په څېر نه دی، چې مادي ګټه يې اصل موخه وي، بلکې غواړي چې د اسلام سلامتيا تر نورو ورسوي؛ نو نه بې ثباتي رامنځته کېږي او نه هم بې مورده مهاجرت. دغه راز ټول خلک خپل ځان مال او ناموس خوندي احساسوي.

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُونُواْ قَوَّامِينَ لِلّهِ شُهَدَاء بِالْقِسْطِ وَلاَ يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلاَّ تَعْدِلُواْ اعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ]** [المَائدة: 8]

***ژباړه:*** *اې مؤمنانو! د الله لپاره پر رښتينولۍ ولاړ او د عدل شاهدان شئ. د کومې ډلې دښمني تاسو دومره را و نه پاروي، چې له عدالت څخه واوړئ. عدالت وکړئ، دا له تقوا سره نژدې اړيکه لري. د الله له وېرې سره کار کوئ، هر څه چې تاسې کوئ، الله پرې پوره خبر دی.*

اسلام د عقيدوي اړيکې پر بنسټ رنګارنګ انسانان تر يوه چتر لاندې داسې راټولوي، چې عقيده يې خالق ته تسليمېږي. دا اړيکه په يوه ځانګړي نسل، ژبه يا سيمه پورې نه ده محدوده؛ د مدينې انصارو ته له مکې مهاجر راغلل او د دوی ترمنځ وروري رامنځته شوه، بيا خلافت نورې ځمکې فتحه کړې، په دې نويو سيمو کې چې کله اسلامي افکار خپاره شول؛ اکثره خلکو په ډېر شوق سره اسلام ته غاړه کېښوده.

**[وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ]**[الأنبيَاء : 107]

***ژباړه:*** *اې محمده!موږ ټولو نړيوالو ته، رحمت لېږلی يې.*

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**ليکوال: فايز بن احمد**